د شخصي پاملرنې مرستندويه دله



د يو مسلکي شخص سره
د خپل زړه خواله شريک کړئ

د روغتيايي پاملرنې په فعاليتونو کې خپل
مناسب فعاليت وموميئ چې په ريښتني توګه د
نورو په ژوند کې توپير رامينځته کوي

د شخصي پاملرنې مرستندويان هغه معلوليت لرونکو يا ناروغو اشخاصو ته مرستي چمتو کوي چې د شخصي پاملرنې او ورځني ژوند په فعاليتونو کې کومک ته اړتيا لري. هغه خلک چې په دې برخه کې کار کوي د تغذيې، حمام کولو، جامو اغوستلو، سينګار کولو، د تشناب څخه استفاده، او د شخص د هستوګنځي شاوخوا، د کار ځای يا بهر په ټولنه کې د حرکت کولو په چارو کې مرسته کوي. د شخصي پاملرنې مرستندويان ممکن خواړه چمتو کړي، کور رڼا کړي او کالي ومينځي. دا کارونه په تاسيساتو کې د هغه کسانو په اړتيا پورې اړه لري چې د بېلابېلو پاملرنې خدماتو غوښتنه کوي او کيدای شي دا خدمات د پاملرنې خدماتو د ترلاسه کونکي شخص په کور، کار ځای، يا بهر په ټولنه کې وي. که تاسو غواړئ د يو داسي چا سره کار وکړئ چې غواړئ د هغه سره ښه وپېژنئ، نو کېدای شي دا دنده ستاسو لپاره مناسبه وي.

نوري هغه دندي چې په ورته ډول خدمات وړاندې کوي: پالونکی، د کورنۍ پاملرنې چارو مرستيال، د کار روزونکی، د مثبت ملاتړ خدماتي چارو متخصص، د ناروغانو د پاملرنې چارو مرستيال، Direct Support Professional (مستقيم مسلکي ملاتړ) (DSP) د شخصي پاملرنې مرستيال، د شخصي پاملرنې خدمتګار، د هستوګنځي د پاملرنې چارو مرستيال او داسي نور.

اوس مهال د هغو کسانو لپاره تقاضا ډېره شوې ده چې د شخصي پاملرنې د مرستيال په توګه کار کوي. دا په دې مانا ده چې ډيری کارګمارونکي د داسې کارمندانو په لټه کې دي. ټمه کيږي چې د راتلونکي لسيزې لپاره به د شخصي پاملرنې مرستندويانو په توګه د کارمندو کسانو تقاضا لوړه وي.

زده کړه

د عالي ليسې ډيپلوم يا معادل سند معمولا د هغه چا لپاره اړين دی چې د شخصي پاملرنې د مرستيال په توګه کار کوي، خو کېدای شي استثناوي موجودي وي. د کارمند څخه پوښتنه وکړئ چې ستاسو د کاري مرکې په جريان کې څه شي ته اړتيا شته.

د جواز ورکولو معلومات

د روغتيايي پاملرنې اړوند جواز ته اړتيا نه شته. کېدای شي په ځينو دندو کې د موټر چلولو جواز ته اړتيا وي. د کارمند څخه پوښتنه وکړئ چې ستاسو د کاري مرکې په جريان کې څه شي ته اړتيا شته.

د تصديق معلومات

ځينې کار ګمارونکي ممکن په دې مسلک کې د کار کولو لپاره يو مسلکي تصديق اړين وګڼي. د کارمند څخه پوښتنه وکړئ چې ستاسو د کاري مرکې په جريان کې څه شي ته اړتيا شته.

شالید ته کتنه

هغه کسان چې غواړي د شخصي پاملرنې د مرستيال په توګه کار وکړي بايد د ايالتي قانون سره سم د خپل جرمي شالید يا مخيني په اړه معلومات بشپړ کړي.

د ژبې مهارتونه

هغه کسان چې انګليسي زده کوي او د انګليسي پرته په نورو ژبو خبرې کوي په دې مسلک کې ورته ښه راغلاست ويل کېږي. ستاسو د کاري مرکې په جريان کې د کار ګمارونکي څخه وپوښتئ چې په دې برخه کې څه شي ته اړتيا شته او تاسو د نورو سره د مرستي لپاره د خپلو ژبنيزو مهارتونو څخه څنګه استفاده کولای شئ.

مسلکي پرمختګ

وروسته له دې چې يو شخص د شخصي پاملرنې د مرستيال په توګه تجربه ترلاسه کړي د مسلکي پرمختګ لپاره فرصتونه شته. ځينې وختونه کارګمارونکي د کارمندانو لپاره د روزنې لپاره پيسې ورکوي ترڅو د روغتيايي پاملرنې په برخه کې په لوړه کچه تصديق شي او ډيرې پيسې وګټي. ستاسو د کاري مرکې په جريان کې د کارګمارونکي څخه د مسلکي پرمختګ اړوند فرصتونو په اړه پوښتنه وکړئ.

CareerForce™
Minnesota's Career Resource

د شخصي پاملرنې مرستندويه ډله ادامه

معاش

هغه کسان چې په Minnesota کې د شخصي پاملرنې د مرستيال په توګه کار کوي معمولا يې د 2026 کال د مارچ تر مياشتې پورې په هر ساعت کې له 18.05 ډالرو څخه تر 21.60 ډالرو پورې عايد ترلاسه کړی دی. معاشونه د هغه ايالت د هغه برخې پر بنسټ توپير لري چې تاسو پکې ژوند کوئ.

ورځني کاري فعاليتونه

- شخصي پاملرنې خدمات وړاندې کړئ، لکه د ناستي، ولاړې حرکت کولو يا د شخصي حفظ الصحې په برخه کې له نورو سره مرسته وکړئ.
- د مراجعينو د پرمختګ او د ترسره شويو خدماتو ريکارډونه چمتو کول او ساتل، مدير يا څارونکي ته د مراجعينو په حالت کې د بدلونونو په اړه راپور ورکول.
- د روغتيايي پاملرنې اړوند مسؤوليتونه ترسره کړئ، لکه د جواز لرونکي روغتيايي پاملرنې د چمتو کونکو د لارښوونو سره سم د حياتي نښو او درملو څارنه کول.
- د قضيې د بياکتنې په چارو کې برخه واخلئ، د مراجعينو د پاملرنې ټيم سره مشوره وکړئ، د مراجعينو د اړتياوو ارزونه وکړئ او د خدماتو د دوام لپاره پلان جوړ کړئ.
- د زړېدو پر وخت، د کورنۍ ګډوډۍ، يا رغېدو پرمهال د خلګو او کورنيو پاملرنه وکړئ، د هغوی سره ملګري شئ، شخصي پاملرنه ورته وکړئ، يا د نوي ژوند د طرزالعملونو سره د ځان عياروله په برخه کې د هغوی مرسته وکړئ.

دا چې د شخصي پاملرنې مرستندويه ډله کوم کارونه ترسره کوي، په دې اړه په انګليسي ژبه ويډيو وګورئ.

- په تاسيساتو کې دندې ترسره کړئ، لکه پخلی کول، پاکول، د جامو يا لوښو مينځل، يا د کارونو ترسره کول.
- مراجعينو ته د موضوعاتو په اړه لارښوونه يا مشوره ورکړئ، لکه د کور پاکوالی، اسانتياوې، حفظ الصحه، تغذيه، يا د ماشوم پاملرنې چارې.
- د مغذي خوړو پلانول، پلورل، يا چمتو کولو يا د مغذي خوړو په پلانولو، پيرودلو يا چمتو کولو کې ورسره مرسته وکړئ.
- له هستوګنځي څخه بهر ځايونو ته لکه د ډاکټرانو دفترونو يا بهر ته د تګ پرمهال د مراجعينو سره مرسته وکړئ او د موټرانو څخه په استفاده يې ولېږدوئ.
- مراجعينو ته مخابراتي مرستې چمتو کړئ، د دوی لپاره ليک وليکئ يا د دوی لپاره معلومات ترلاسه کړئ.
- د کورنۍ غړو ته د پاملرنې په چارو کې روزنه ورکړئ.

د کار موندلو څرنګوالی د شخصي پاملرنې مرستندويه ډله

تاسو ته نږدې په CareerForce موقعيت کې له يو چا سره خبرې وکړئ:

- له CareerForce.MN.gov/locations څخه ليدنه وکړئ
- 651-259-7500 شمېرې ته زنګ ووهئ

په مستقيم ډول د يو کارګمارونکي سره مستقيم اړيکه ونيسئ:

- په CareerForce.MN.gov/job-search کې ليستونه وپلټئ



CareerForce.MN.gov/CaringCareer

651-259-7500 – شمېره باندې د ژبې او ژباړې خدمات شته

10-2026

CareerForce™

Minnesota's Career Resource